# د ملکي خدمتونو د بستونو د دندو لایحه

**د بست په اړه معلومات:**

| | |
|---|---|
| داعلان شوي پست گڼه: | |
| د دندې عنوان: | ډرېور |
| بست: | ۷ |
| وزارت یا اداره: | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون |
| اړونده څانگه: | د کمېسیون د دارالانشا ریاست |
| د پست ځای: | کابل (مرکز) |
| د بستونو شمېر: | ٦ |
| راپور ورکوونکی: | د ترانسپورټ تنظیم مدیریت ته |
| راپور اخیستونکی: | نه لري |
| کوډ: | |
| د کتنې نېټه: | ۱۳۹۸/۱۱/۳ |
| | |
| | |

**د دندې موخه:** دترانسپورټي لپاره د ترافیکی قوانینو په رڼا کې د ډرېورۍ چارو پرمخ وړل

**تخصصي دندې :**

- ✓ د ورکړل شوي سجل په رڼا کې د وسایطو له صحت څخه ډاډ ترلاسه کول؛
- ✓ پر ټاکل شوي وخت د کارکوونکو وړلو او راوړلو او د پالیسی په رڼا کې له وسایطو مسوولانه او معقوله گټه اخیستنه؛
- ✓ د وسایطو له جوړښت څخه د ډاډمنتیا په پار د وسایطو د ټولو اجزاوو حفظ او ساتنه؛
- ✓ د ترافیکي پېښو مخنیو لپاره د وسایطو څخه سمه گټه اخیستنه او د ډرېوري په وخت کې د ټولو ترافیکي قوانینو په پام کې نیول؛
- ✓ د اضافي لگښت څخه مخنیوی او له ټاکل شوي مسیر څخه بل مسیر ته نه تگ، په رسمي وخت کې له وسایطو څخه شخصي گټه نه اخیستنه؛
- ✓ د اړوندو سندونو لکه: جواز سیر، لایسنس، د گرځېدو کتابچه درلودل تر څو د اړتیا په صورت کې ارایه شي؛
- ✓ د حساب تصفیه کولو لپاره د واسایطو د نویو او تبدیل شویو پرزو داغمه تحویلول؛
- ✓ د واسطې د پاکوالی تامین؛ ترڅو کارکوونکي په ناروغی اخته نشي؛
- ✓ د رسمي دندې پای ته رسېدو وروسته په ټاکل شوي ځای کې د واسطې پارک کول ترڅو د ساتنې مسوولیت یې له غاړې لرې کړی وي؛
- ✓ د اړوندې تخنیکي څانگې تجهیزاتو او وسایلو ساتنه؛

**مدیریتي دندې:**

- ✓ ( نلري ).

**د همغږۍ دندې:**

- ✓ د اړوند آمرینو د خبرولو لپاره، د خپلو کړنو په هکله شفاهي راپور ورکول؛
- ✓ د واسطې فعالوالي او بشپړتیا په پار د ترانسپورټ مدیریت ته د واسطې د اړتیاوو لکه روغنیاتو، پرزو او داسې نورو راپور ورکول؛
- ✓ د قانون او مقررو په رڼا کې د هغو ټولو کړنو تر سره کول چې د اړوندو مقاماتو لخوا د اداري موخو لپاره ورسپارل شوي وي.

**د ګمارنې شرطونه (د زده کړو کچه او کاري تجربه):**

د دندو دغه لایحه د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون ۷ او ۳۴ موادو په پام کې نېولو سره د لاندې شرطونو او معیارونو په لرلو جوړه شوې.

## تحصیلي رشته:

۱ . دغه بست ته د تحصیلي سند لرل اړین نه دي: (اړتیا نشته)؛

## کاري تجربه:

۲. لږ تر لږه د دریو یو کلنه کاري تجربه ولري .

اړین سندونه :

۳. د دریوری رسمي جواز لرل (چې د اعتیار نېټه یې پای ته نه وي رسېدلې).

۴. د معتبر ضمانت درلودل (غیرمنقول جایداد چې شرعي قباله ولري) .

اړین مهارتونه:

۵. د هېواد له رسمي ژبو په یوې پوهېدل ( پشتو یا دری ) .

٦. د دندې ترسره کولو لپاره وړتیا درلودل.